شمیره 6

# ښې حکومتولۍ ته لارښودنې

## په دفاعي سکتور کې د په ښکاره ویلو او محرمیت تر مینځ د انډول برابرول: له نړیوالې ښې عملي کړنې څخه زده کړې

Norwegian Ministry of Defence

Centre for Integrity in the Defence Sector

## په دفاعي سکتور کې د صداقت او ښتینولۍ مرکز

په دفاعي سکتور کې د صداقت او ښتینولۍ مرکز (CIDS) صداقت او ښتینولي، د فساد پر وړاندې تدبیرونو او ښه حکومتولي په دفاعي سکتور کې ترویجوي. د ناروې او نړیوالو ملګرو سره په ګډه کار کولو ، دا مرکز په دې هڅه کې دی چې وړتیا جوړه کړي، د باخبرۍ کچه لوړه کړي او د فساد د احتمالي ګواښونو د کمولو لپاره عملي ابزار برابر کړي. CIDS د ناروې د دفاع د وزارت لخوا په 2012 کال کې تأسیس شو.

### د لیکونکي په هکله

**فرانسیسکو کاردونه** Francisco Cardona په CIDS کې یو اړوند نړیوال کارپوه دی. کاردونه یو نامتو کارپوه دی چې د ملکي خدمتونو او عامه ادارې د اصلاحاتو، اداري قانون او عدالت، د فساد ضد تګلارو او د بنسټ جوړونې په طرح او ارزونه باندې تمرکز لري. د ده ازمېښت د ده د ټاټوبي هسپانیې څخه، چیرې چې ده په عامه خدمتونو کې خپلې کاري سابقې ته پرمختګ ورکړ، بیا تر نړیوالو سازمانونو لکه د اقتصادي همکارۍ او ودې لپاره سازمان OECD، د SIGMA تر پروګرام پورې غزېږي، چیرې چې کاردونه د تګلارې د یوه مشر تحلیل او تجزیه کوونکي په توګه په ملکي خدمتونو کې په عامه حکومتولۍ کې 15 کاله تېر کړل. په SIGMAکې هغه 25 مخ په پرمختګ او د انتقال په بهیر کې هېوادونو ته په شرقي اروپا، افریقا، لاتینې امریکې او د کارابیین په سیمه کې مشوره ورکړله. ده د یوه قانون پوه په توګه زده کړه تر لاسه کړې (په والینسیا پوهنتون کې، 1976) او په عامه اداري کارونو کې یو زیات شمېر ماسترۍ لري.

# سریځه

ښې حکومتوالۍ ته د CIDS لارښودونې (GGG) د خپلې اصلي موخې په توګه هغه کلیدي مسئلې وړاندې کوي، کومې چې د "ښې حکومتولۍ" له ساحې سره تړاو لري. دا لارښودونې باید لنډې وي، پرته له دې چې مسئلې یې خورا ساده کړای شي.

د ښې حکومتوالۍ GGG په شپږمه لارښودونه کې، د لیکوال موخه دا ده چې په دفاعي سکتور کې د محرمیت مفهوم ونګوي. د دې کار په کولو سره لیکوال دا پوښتنه کوي: «(...) معلوماتو ته د آزاد لاسرسي او تر یوې کچې د دې لاسرسي د محدودولو ترمینځ انډول» په یوه دیموکراتیکه ټولنه کې د (...)" یوه پرانیستي حکومت "سره باید تر کومې کچې وټاکل شي؟ سربېره پردې، د ملي خوندیتوب د اندېښنو لپاره کله دا ډول یوه اړتیا رامینځته کېږي چې معلومات دې محدود کړای شي؟ د دولت د محافظت لپاره د اتباعو حق ته پاملرنه وکړئ.

دا لارښود د فرانسیسکو کاردونه په مټ لیکل شوی. دی د CIDS یو لوړ پوړی نړیوال کارپوه دی. زه غواړم د ده څخه د ښې حکومتولۍ په اړوندو چارو کې د برخه اخیستلو لپاره د دې ډول یوې مهمې موضوع د اهدا کولو له امله مننه وکړم. دا هغه ډول یوه موضوع ده چې په وروستیو کلونو کې په تولیزو بحثونو کې د یوه لوړ واقعیت په سترګه ورته کتل کېږي او کېدای شي چې په راتلونکو کلونو کې به هم خپل دې اړوندتوب ته پاېښت ورکړي.

زه همدارنګه غواړم د دې مرکز د چلوونکي محرر، بارډ بریډروپ نوټسن Bård Bredrup Knutsen او زموږ د خپرونې د همغږۍ کوونکې ماري فوسوم Åse Marie Fossum څخه د دغو لارښودنو په سمبالولو کې د دوی د ونډې اخیستلو لپاره مننه وکړم.

موږ هیله من یو چې ښه حکومتولۍ ته دغه مرسته کېدای شي د پراخو حضارو لخوا هم په عامه او هم په دفاعي سکتور او په بهر کې وکارول شي. ټولنې لپاره حیاتي دي.

CIDS به خوښ وي چې د دغو لارښودنو اړوند کوم نظر ترلاسه کړي.

د 2018 کال د اپرېل د میاشتې 24 نېټه، اوسلو



**پیر کریستینسن**
ډایرکټر

# محتوا

مقدمه.......................................................................................................3

مفکوروي چوکاټ: ملي خونديتوب د محرميت تر نامه
لاندې د يوې توجيې په توګه ...........................................................................4

د درجه بندۍ د سیستمونو په کنټرولولو کې
په ټولو کې د قضا د کمزوري نقش لوبول..........................................................7

د درجه بندۍ معیارونه او د درجه بندۍ کچې ..................................................8

د درجه بندۍ د لیرې کولو معیارونه ..............................................................10

د رازساتلو تر کنټرول لاندې نیولو ازموینه: د زیان د ازموینې
او د عامه ګټو د انډول ټاکونکې ازموینه ........................................................11

پايلامې ......................................................................................................13

مراجع ......................................................................................................15

# مقدمه

د ښې حکومتولۍ دا لارښود د اروپايي اتحاديې او د اقتصادي همکارۍ او پر مختګ د سازمان OECD د هېوادونو لخوا د نړيوالو ښو کړنو په اړه لنډ نظر وړاندې کوي چې موخه يې د دفاع او ملي امنيت په برخه کې د عامه معلوماتو محرميت ساتل دي، په داسې حال کې چې هغو معلوماتو ته په لاسرسي کې چې په عامه بنسټونو کې ساتل کېږي د عامو خلکو عمومي حق ته ترويج ورکوي. د دې لارښود موخه د داسې پاليسيو وړاندې کول دي، کومې چې يوه پرانيستې دولت، معلوماتو ته د لاسرسي او د خلکو ظرفيت ته ترويج او وده ورکوي، چې د حکومتونو د کړنو په اړه باخبره پرېکړې وکړي. په ورته وخت کې، په هغو چارو کې چې ملي امنيت، له دفاعي او استخباراتي مسائلو سره حساس دي، همدارنګه د اداري فساد او جرمونو پر وړاندې مبارزه کې د دولتي رازونو د سالم او خوندي محافظت لپاره حدونه طرح کړي.

د فساد، ناوړه اداري چلند او کمزورې حکومتولۍ پر وړاندې ړنتيا يا شفافيت او تبليغات يوه غوره مخنيوونکې چاره ده. ډيموکراسۍ نشي کولای په مخفي او پټو شرايطو کې سم کار وکړي، ځکه چې که چيرې د دې رازساتلو کچه پراخه وي، سياسي رژيم هسې په ساده توګه غير ډيموکرتيک ګرځي، ځکه وګړي يې د سياسي پروسې له بهير څخه بې برخې پاتېږي. دا پدې معنی ده چې د واک کارول کېدای شي د کنټرول څخه ووځي او ډيموکراتيکه حساب ورکونه ترسره نکړای شي. په هر حال، په اغيزمنه توګه يوه اداره شوې دولت کې د ډيموکراسۍ د سم فعاليت د خوندي کولو لپاره همدارنګه کېدای شي چې معلوماتو ته عامه لاسرسی محدود کړای شي. له همدې کبله، هم د عامه معلوماتو افشاکول او هم پدې افشاکولو کې ځينې محدوديتونه بايد په مساوي ډول د عامه ګټو لپاره خدمت وکړي.

# مفکوروي چوکاټ:
# ملي خوندیتوب د محرمیت تر نامه لاندې د یوې توجیې په توګه

لومړنۍ مفکوروي انګېرنه دا ده چې له یوې خوا معلوماتو ته د حکومت آزاد لاسرسی، او له بلې خوا تر یوې کچې د دې لاسرسي محدودول د خلکو منافعو ته ګټه رسوي. په نړیواله کچه منل شوی عمومي اصل دا دی چې د "پوهې حق" باید د دولتونو له خوا ترویج شي، پداسې حال کې چې د دې لپاره مناسب محدودیتونه ټاکل شوي ترڅو د معینو عامه معلوماتو محرمیت وساتل شي. وروستۍ خبره هله لازمي ده که چیرې دولتي کړنې په ځانګړو ډومینونو یا معلوماتي بانکونو کې، په خاصه توګه په کومو کې چې د ملي امنیت او دفاع سره تړاو لري، باید یې اداره په مؤثره توګه سمباله کړای شي.

د داسې یوه محرمیت په اړه اصلي ستونزه دا ده چې دا خبره معلومه کړای شي چې معلوماتو ته د خلکو پر لاسرسي باندې کله او څنګه د محدودیتونو لګول قانوني دي. دغو معلوماتو ته د عامه خلکو د لاسرسي لپاره د ډاډ تر لاسه کول د سالمو ډیموکراسیو هیله منه موخه ده، په داسې حال کې چې د دې لاسرسي د محدودولو لپاره ځینې قانوني حدودو ټاکل کېږي. د دغو دوو ملاحظاتو تر منځ د یوه مناسب انډول برابرول تر ډېره حده د یوه هېواد په تاریخ، ټولنیزو ارزښتونو او نورو کلتوري فاکتورونو پورې اړه لري. دا یې یو دلیل دی چې ولې د دې خبرې معلومول یو ګران کار دی چې آیا داسې نړیوال معیارونه شته دي چې یوه سم انډول ته په رسېدلو کې مرسته وکړي (د بریتانیا نړیوال شفافیت، 2015). په عملي کړنو کې کټ مټ داسې نړیوال معیارونه شتون نلري، که څه هم د ځینې عمومي اصولو د ټاکلو لپاره هڅې او په یوه زیاته پیمانه روښنفکرانه بحثونه پدې وروستیو کلونو کې روان دي.[1]

که چیرې له پامه وغورځول شي، د راز او محرمیت ساتلو لپاره د ډاډ د تر لاسه کولو کړنې په اسانۍ سره د پام وړ او پراخې ګرځي. ځینې هغه دولتي خدمتونه چې د ملي امنیت، دفاع، جنایي تحقیقاتو، استخباراتو راټولولو یا د تروریزم پر وړاندې د مبارزې په برخه کې کار کوي، دا لېوالتیا لري چې په خپلو هر ډول کړنو کې راز ساتل تطبیق کړي، ان که دا کار د وګړو د هغو حقونو مخه ونیسي چې په مرسته یې دوی پوهېږي چې حکومت څه کوي. د "راز ساتلو د دستګاه" د چالانه ساتلو پر لوړو لګښتونو سربېره، د محرمیت څخه په پراخه پیمانه او ګرانه ګټه اخیستنه پر دولتي ادارو باندې د خلکو باور زیانمنوي او په پای کې دیموکراتیک مشروعیت تضعیفوي. زښت زیاد محرمیت دا تمایل لري چې د ړنتیا او عامه تفتیش په پرتله ډېرې غلطۍ رامینځته کړي، ځکه چې د ړنتیا یا شفافیت نشتوالی د خلکو تفتیش او د کمزورو کړنو اصلاح کول خورا ګرانوي. په پایله کې یې، په اوږد مهال کې زښت ډېر رازساتل کېدای شي د پرانیستې یا آزادۍ په پرتله ملي امنیت ته د لا زیاد ګواښ لامل وګرځي.

لکه څنګه چې د عامه چارو ځینې چارواکي استدلال کوي - د بېلګې په توګه، په متحده ایالتونو کې -

1 د شوین اصول وګورئ (2013 کال):
https://www.opensocietyfoundations.org/fact-sheets/tshwane-principles-national-security-and-right-information-overview-15-points

خورا ډېر راز ساتل "په حکومت کې دننه او بهر د معلوماتو د شریکولو په وړاندې عامه پالیسیو ته په زیان رسولو کې یو نه توجیه کوونکی خنډ ګرځېدلی"(Aftergood, 2008, page 400). دا د درجه بندۍ ستونزې ته اشاره کوي، دا پدې معنی چې د معلوماتو د ساتنې خدمتونه د معلوماتو درجه بندۍ ته تر دې کچې لېوال دي چې په واقعیت کې هومره ورته اړتیا نوي.

د طبقه بندۍ د هر ډول سیستم موخه د معلوماتو د افشا کېدلو مخنیوی دی، کوم چې کولای شي ملي امنیت له ګواښ سره مخامخ کړي، خو د "ملي امنیت" او "د امنیتي ګواښونو" په اړوند د تصور ابهام په اسانۍ سره د زښت ډېر راز ساتلو کارونې ته لاره هواروي. د حقیقي او ذهني معلوماتو تر منځ د توپیر کولو د میندلو ستونزې دا کار ګرانوي چې د معلوماتو د سالمې درجه بندۍ لپاره ښه تعریف شوي معیارونه رامینځته کړای شي.

د معلوماتو سالمه درجه بندي پخپله یو ستونزمن تصور دی، خو په فکري لحاظ موږ کېدای شي له دې خبرې سره همغاړي شو چې یوه "سالمه" درجه بندي هغه ده چې معقوله وي او د په زغرده ویلو، ړنتیا او معلوماتو ته د آزاد لاسرسي د ډیموکراتیکو ارزښتونو څخه تر ممکنې لړې اندازې ځان ګوښه وساتلای شي. په بل عبارت، موږ کېدای شي موافق شو چې د ړنتیا لپاره معقول محدودیت هغه دی چې الف: استثنایی وي، او ب: د ملي امنیت مهمې ګټې خوندي کړي. دا پایله دا خبره تصدیقوی چې د دفاع او ملي امنیت په برخه کې داسې معلومات شتون لري چې پټول یې د ملي امنیت لپاره حیاتي ندي او له همدې کبله کېدای شي په خوندي ډول ښکاره کړای شي - په بشپړ ډول یا تر یوې کچې.

په یو شمېر ډیموکراتیکو هېوادونو کې لا تر اوسه هم یو په غالبه توګه دودیز چلند شتون لري، چېرې چې ړنتیا صرفاً د وګړو د غوښتنې استازیتوب کوي، او چېرې چې د ملي امنیت لپاره راز ساتل د عامه ګټو ښکارندویي کوي. د بېلګې په توګه، د فرانسې د بهرنیو چارو د شورا مرستیال ښاغلي جین مارک ساوی

Jean Marc Sauvé، د فرانسې ملي شورا ته د 2011 کال د جولای پر 5 نېټه په خپلې وینا کې وویل: "د عامه قانوني ګټو چې راز ساتل یې غوښتنه کوي، او ړنتیا تر منځ چې د وګړو لخوا یې د اړتیا غوښتنه کېږي، د وېش د کرښې کښل یو مخ پر وړاندې لاره ده" (Sauvé ، 2011 ، 6 مخ). دا بیان د هغې انګېرنې پر بنسټ رامینځته کېږي چې له مخه یې د راز ساتلو خوندي کول د عامه ګټو ساتنه کوي، پداسې حال کې چې ړنتیا د عامه ګټو لپاره نه ده او یوازې یوه غوښتنه ده چې د وګړو او ژورنالستانو په کنجکاوۍ پر مخ بېول کېږي. دا یوه ډېره مشکوکه انګېرنه ده. تجربه ښیي چې د ړنتیا ترویجول د عامه ګټو د ساتنې د غوره لارو څخه یوه لاره ده، ځکه چې دا کار عامه وګړو او د ډیموکراتیک کنټرول نورو میکانیزمونوو ته د عامه چارواکو د حساب ورکونې په ساتلو کې مرسته کوي. له همدې امله، دا ړنتیا ده، او نه راز ساتل چې کېدای شي د یوې وسیلې په سترګه ورته وکتل شي، "کومه چې په طبیعي ډول را پورته کېږي او د دولت او وګړو تر منځ یې تشه ډکوي" (Fenster، 2010 کال، 619 مخ).

د یوې موجودې نړیوالې اجماع له مخه د عامه چارواکو په پالیسۍ او کړنو کې ړنتیا باید عمومي قاعده وي، په داسې حال کې چې راز ساتل باید یوه استثنا وي. سربېره پردې، دا ډول استثناوې باید توجیه کړای شي: د هغوی څخه یوازې هغه وخت دفاع کېدای شي چې مشروع وي. دوی یوازې هله مشروع دي چې دا ثابته کړي چې دوی د رېښتیني ملي امنیتي ګټو د ساتنې لپاره شتون لري.

تر څو د قانوني او غیرقانوني راز ساتلو تر منځ توپیر وکولای شي، د چارواکو لخوا یو ډه کنټرول ته اړتیا لیدله کېږي چې د درجه بندي کوونکو څخه خپلواک وي. د کنټرول دا ډول خپلواک میکانیزمونه کېدای شي د محکمو یا د ډېرو مسلکي عامه ارګانونو لخوا عملي کړای شي، او د دوی نقش دا دی چې دا خبره جوته کړي چې آیا د ملي امنیت کومې ګټې چې راغوښتل کېږي تر څو معلومات درجه بندي کړای شي، رېښتیني او په پوره توګه مهمې دي او که نه. د دباندیني کنټرول له میکانیزمونو پرته، د معلوماتو

د درجه بندۍ په اړه پرېکړې په استثنايي توګه بصيرتي يا اختصاصي او تر ډېره بريده په احتمالي شان مستبدانه ګرځي. خو بيا هم، لکه څنګه چې به يې لاندې وګورو ، د تاريخي پلوه محکمو داسې يو نقش لوبولی او اوس يې هم د لوبولو لېوالتيا لري – کوم چې په زښت زياته پيمانه د امنيت يا استخباراتي ادارو لخوا د معلوماتو ساتلو په اړه درناوی لري.

له فکري پلوه بشپړه ړنتيا مطلوبه نه ده او کېدای شي شوني هم نه وي، لکه څنګه چې يې پورته يادونه وشوه. سربېره پر دې، دولت به تل په هغو ځانګړو ساحو کې فعاليت وکړي، کومې چې ناروښانه يا مبهمې وي. لکه څنګه چې يې فينستر Fenster (2010 کال، 623 مخ) په ګوته کوي، د راز ساتلو او ړنتيا تر مينځ په تکراری ډول يوه ساحه شته، د دې معنی دا ده چې دا ضروري نده چې راز ساتل دې د ړنتيا پر خلاف وي. په عمل کې، راز ساتل او ړنتيا د يوه روښانه او مقابل حقيقت استازيتوب نه کوي، ځکه چې هم راز ساتل او هم ړنتيا دواړه بېلو بنسټيزو اړو ته اړتيا لري، او هغوی د جوړښت له پلوه يو له بل سره توپير لري (Riese، 2014 کال، 14 مخ).

دا حتمي نده چې ډېره ړنتيا دې د لږو راز ساتلو په معنی وي، خو ښه کيفيت به د محرميت ساتنه وکړي. ډېره ړنتيا پدې معنی ده چې يوازې د محرميت لپاره رېښتينې اړتياوې به خوندي کړای شي. د ړنتيا د پاليسيو بنسټيز کول په ډېرو هېوادونو کې نسبتا نوي دي، په داسې حال کې چې د راز ساتلو بنسټيز کول له اوږدمهاله تاسيس شويو دودونو څخه راځي. د دې هر يوه دود تر شا ارزښتونه او ګټې خو بيا هم متجانسې او په يو ډول متناقضې دي. دا ننګونه د پوهېدلو د حق په تدريجي ډول مخ پر وړاندې بنسټيز کولو کې او د محرميت لا متناسبو رېښتينو اړتياوو په ساتنه کې - په تنظيمي جوړښتونو کې، کوم چې هغوی په حکومتي کړنو کې اداره کوي، پرېوتې. د دواړو پاليسيو ترمنځ د لا ډېرې سازګارۍ لپاره پلټنه بايد په کامل ډول د يوې واحدې مدغم شوې پاليسۍ سره مساعده وي او په حکومتونو کې دننه اطلاعاتو ته د لا نور بنسټيز کېدلو لاسرسي سره مساعده وي، د ملي امنيت له اړتياو سره سم.

خو بيا هم، د "ملي امنيت" دا تصور خورا مبهم دی، ځکه چې دا تصور کولای شي په بېلابېلو ملي متنونو کې بېلابېلې معناوې ولري،کومې چې دا مسئله لا نوره هم پېچلې کوي. د ډېرو اروپايي هېوادونو په سروې ګانو کې چې د جيکبسن Jacobsen (2013) لخوا ترسره شوې، ملی امنيت په بېلابېله کچه نړيوالې اړيکې او د کورني امنيت ګواښونه هم لري. په بله وينا، دا حتمي نده چې يوه ځرګنده سرحدي کرښه دې موجوده وي.

د دې لپاره چې دا خبره جوته شي چې آيا د دولت راز ساتل مشروعيت لري او يا نه، آفتروود Afterwood (2009 کال، 402-403 مخ) د راز ساتلو د درېوو عملي کټګوريو وړانديز کوي، په داسې حال کې چې دا مني چې د عامه پاليسۍ تلپاتې ستونزه په دې کې ده چې قانوني راز ساتل له غير قانوني راز ساتلو څخه جلا کړي، او چې په دې لړ کې د لومړي هغه ساتنه وکړي، په داسې حال کې چې وروستينۍ هغه بربنډه کړي:

1. **د ملي امنيت رېښتيني راز ساتل:** د هغو معلوماتو خوندي ساتل دي چې د يوه ملت امنيت ته د هغه دفاع او يا خو هم بهرنيو اړيکو ته يې د زيان په رسولو کې د پېژندلو وړ ګواښ وړپېښولای شي. د دې ډول معلوماتو پټ ساتل جنجالي ندي ځکه چې دا د درجه بندۍ د ټولو سيستمونو ترشا يو منطق دی، او عامه ګټو ته غوره خدمت کېږي کله چې دا ډول معلومات پټ پاتې وي.

2. **بيوروکراتيک راز ساتل:** د معلوماتو ساتلو لپاره د بيوروکراتانو لېوالتيا، که د راحتۍ له مخې وي او يا خو که د يو لږ شک له مخې، کېدای شي افشا کول يې د رازساتلو په پرتله خطرناک وي. دا بيوروکراتيکه لېوالتيا د معلوماتو د درجه بندۍ د ډېرېدلو لامل کېږي او په پايله کې يې د غير ضروي درجه بندي شويو معلوماتو يوه لويه پيمانه رامينځته کېږي. دا کار همدارنګه د راز ساتلو د بوديجې لګښتونه څو څو ځله زياتوي او په بيا بيا ځله د ځان ځانې اهميت پر بيوروکراتيکو احساساتو او نه لېوالتيا چې

دا خبره جوته کړي چې څرنګه د حکومت ځانګړې بنسټونه خپلې دندې تر سره کوي، لوبې کوي.

3. **سیاسي راز ساتل:** د سیاسي برلاسۍ لپاره د درجه بندۍ کارولو ته لېوالتیا. د راز ساتلو دا ډول تر ټولو د اعتراض وړ یو ډول دی، ځکه چې دا ډول د ملي امنیت د ګټو د منل شوي مشروعیت څخه ناوړه ګټه اخلي ترڅو خپله خودغرضانه اجنډا پرمخ بوځي، د سیاسي لانجو څخه اړخ خالي کړي او یا د عامه حساب ورکونې مخه ونیسي. په خورا فوق العاده حالاتو کې، سیاسي راز ساتل قانوني سرغړونې، د بشري حقونو څخه سرغړونې، اداري فساد یا ناسم مدیریت پټوي او د سیاسي پروسې بشپړتیا له ګواښ سره مخامخ کوي.

## د درجه بندۍ د سیستمونو په کنټرولولو کې په ټولو کې د قضا د کمزوري نقش لوبول

لکه څنګه چې یې پورته اشاره وشوه، محکمې په دوديز ډول د درجه بندي کوونکو سازمانونو او د هغوی په اصطلاح "د دولتي راز سره تړلي اداري اجرایوي امتیاز" په وړاندې په خورا درنښت چال چلند کړی او کوي یې. قضا ته درنښت د دې مفکورې په پیاوړتیا کې مرسته کړې چې ملي امنیت تر ډېره بریده نازک او حساس دی چې ان محکمو ته دې افشا کړای شي (Setty ، 2012). یوه ښه بېلګه یې د متحده ایالتونه څخه د سرې جګړې د قضیې (متحده *ایالتونه د رینالډز* په وړاندې) څرګندویه نښه ده.[2]

د اجرایي قوې په وړاندې د محکمو احترامانه تمایل په متحده ایالتونو کې د سپتمبر د یوولسمې نېټې د ترهګریز برید راهیسې خورا پیاوړی شوی چې ډېر کله د "9/11" په نامه یادېږي. د ملي امنیت په اړه د حکومت ادعاوې په پرله پسې توګه په محکمه کې د حساب ورکونې، ړنتیا او آزاد حکومت په څېر اصولو برلاسي شوې دي. په متحده ایالتونو، انګلستان، فرانسه او د ډیموکراتیکې نړۍ په نورو برخو کې، په لړه کچه ډیموکراتیکو هېوادونو کې خو یې پرېږدئ، ډېرې قضیې د امنیت پورې اړوند اجرایوي پرېکړو د بیاکتنې په اړه د قضایي نقش ژور پروټ وقف شوي محدود

اړخ ته انعکاس ورکوي. له بده مرغه، دا کېدای شي د اساسي حقونو خونديتوب، د قانون حاکمیت، او د امنیت اصلي ګټو ته د درناوي په زیان تمام شي.

په متحده ایالتونو کې "د دولت د راز ساتلو *اجرایوي امتیاز*"، په برتانیې کې "د *عامه ګټو د معافیت سند*"، یا په فرانسه کې "د *رازونو څخه دفاع*" په وار وار د درجه بندي کوونکو او د اجرایوي قوې د ارګانونو لخوا کارول کېږي چې د قضایي بیاکتنې مخه ونیسي او یا خو یې لږ اغېزناکه کړي. د پورتنیو درېوو شرایطو په څېر د څرګندونو پر بنسټ استثناوې پرانیستې په منظم ډول د محکمو لخوا منل کېږي ان که - کله ناکله - محکمو هم په ګنګ ډول ویلي چې دا امتیازات باید یوازې د اصلي ملي امنیت لپاره محدود وي. دا یو خورا عام قضایي دریځ دی چې په عمومي توګه "د چکونو او توازن له نظره قضایي سرغړونه، د قضایي مسئولیت څخه اړخ خالي کول او د جوړښتي اړتیا په مټ مدافعینو ته دا فرصت برابرول چې د حکومت د خورا زیاتې لاسوهنې په صورت کې وررسېدلی خسارت تر لاسه کړي"، جوته کوي (Setty ،2012 کال 1573 مخ).

د محکمو د رول په اړه په یوې پیاوړې څېړنې کې فوچ Fuchs (2006 کال ، پا 168 مخ) دا څرګنده کړه چې "د دولت معلوماتو ته د لاسرسي د حق خورا مهمو ارزښتونو ته په پام کې نیولو سره، دا حق باید یوازې هغه وخت قرباني شي چې راز ساتلو ته قانوني اړتیا شتون ولري ... نه پارلمان او نه هم پخپله ټولنه په داسې یوه وضعیت کې ده چې زښت ډېر راز ساتل ونګوي. خپلواکې بیاکتنې د قضایي قوې د مسئولیت یوه برخه تشکیلوي ترڅو ډاډ ترلاسه کړي چې د حکومت عملي کړنې سمې دي". یوازې محکمې دومره خپلواکې دي چې ډېر راز ساتل ونګوي، خو داسې ښکاري چې فوچ یادونه کوي، دوی د دې نقش د منلو څخه ډډه کړې.

2 https://supreme.justia.com/cases/federal/us/345/1/case.html

کابو په ټولو اروپايي هېوادونو کې چې د جيکبسن Jacobsen لخوا يې سروې تر سره شوې (2013)، محکمه دا حق لري چې هغه درجه بندي شوي معلومات معاينه کړي چې دولت يې په لټه کې دی چې د ملي امنيت له وجې يې پټ وساتي. بيا هم د يادونې وړ ده چې په ځينو هېوادونو کې يوازې ځينې ځانګړې محکمې يا قاضيان د ځانګړو امنيتي سوابقو خاوندان کولای شي محرم معلومات معاينه کړي. په آلمان کې يوازې د فدرالي اداري محکمه کولای شي محرم معلومات معاينه کړي. په هسپانيه کې، که څه هم د راز ساتلو رسمي قانون قاضيانو ته لاسرسی په پام کې نه نيسي، لکه څنګه چې يې د کانګرس او مشرانو جرګې لپاره په پام کې نيسي، د هسپانيې عالي محکمې پرېکړه کړې چې يوازې دا محکمه د دې واک لري چې د دولت د محرمو معلوماتو بيا کتنه تر سره کړي. فرانسه يوازينی هېواد دی چې محکمې پکې د محرمو معلوماتو د مستقيمې معاينې هيڅ واک نلري (Sartre او Ferlet، 2010). داسې ښکاري چې د فرانسوي قاضي لپاره دا خبره ناممکنه ده چې په مستقيمه توګه محرم معلومات معاينه کړي. د دې ممنوعيت د محدودولو لپاره، د 1998 قانون د فرانسې CSDN (Commission du secret défense nationale ) د ملي دفاع د محرميت ساتلو کميسيون) رامينځته کړ، يو خپلواک کميسيون چې کولای شي محرمو معلوماتو ته لاسرسی ولري لکه څنګه چې يې د قاضي لخوا غوښتنه شوې وي، تر څو دا وارزوي چې آيا معقوله خبره کېدای شي چې دا معلومات دې د محرميت د درجې څخه و ايستل شي.[3] د متحده ايالتونو په شان ،د اروپايي هېوادونو اکثريت قضايي قوې په معموله توګه د دولتي ارګانونو پر ارزونې پر هغه حقايقو تکيه کوي، چې د معلوماتو افشاکول د ملي امنيت ګټو ته زيان ورسوي (Jacobsen 2013).

## د درجه بندۍ معيارونه او د درجه بندۍ کچې

د درجه بندۍ کچې پدې ډول معياري شوې، چې کېدای شي هغې ته ورته سيستم د اقتصادي همکارۍ او پر مختګ سازمان OECD په ډېريو هېوادونو کې وموندل شي. د OECD هېوادونو په مينځ کې يوه ښه بېلګه نيوزيلنډ دی، چېرې چې وګورو د دولت د رازونو سره څرنګه چلند کېږي. په نيوزيلنډ کې، رسمي معلومات د رسمي معلوماتو د محافظت لپاره د اړتيا د سخت تعريف له مخې د معيارونو سره سم خوندي کېږي: معلومات بايد تر هغه بريده محافظت کړای شي، چې د عامه ګټو او د شخصي آزادۍ د ساتلو سره همغاړي وي. د دې ډول معلوماتو درجه بندي پدې څخه کې ده چې د هغه زيان په اساس يې درجه بندي کړي، کوم چې د صلاحيت لرلو پرته افشا کېدای شي، او د پلي کېدو لپاره يې محافظتي اقدامات مشخص کوي.[4] د نيوزيلنډ د لارښودنو سره سم، په خپل سر، درجه بندي رسمي معلوماتو ته اجازه نه ورکوي چې پټ دې وساتل شي؛ بلکې معلومات بايد د وړتياوو په پام کې نيولو سره د قانون لخوا ترتيب شويو معيارونو په کارولو سره وشېړل شي.[5] د آسټراليا د امنيت د درجه بندۍ سيستم د هغه ترتيب له مخې په زړه پورې دی چې د پټو معلوماتو د درجه بندۍ کولو د څرنګوالي لپاره روښانه لارښودنې چمتو کوي.[6]

په نوي زيلنډ کې د درجه بندۍ کچې، کومې چې تر ډېره حده نړيوالې کړنې تعقيبوي، د عامه ښې ګټو د محافظت اړوند په لاندې ډول دي:

- په ملي امنيت پورې اړوند: دا افشا کول به د هېواد امنيت، دفاع يا نړيوالې اړيکې، يا د ملګرو حکومتونو هغوی له ګواښ سره مخامخ کړي.
- د حکومت تګلاره او / يا د شخصي محرميت اړوند:

3 http://www.defense.gouv.fr/sga/le-sga-en-action/droit-et-defense/secret-defense/secret-defense

4 د نوي زيلند د 1982 کال د رسمي ملوماتو قانون.

5 د نوی زيلند لارښودنې د رسمي معلوماتو د حفاظت لپاره. وګورئ https://protectivesecurity.govt.nz/home/information-security-management-protocol/new-zealand-government-security-classification-system/

6 آسټراليا(2014) د معلوماتو د محرميت د مديريت لارښودنې. په https://www.protectivesecurity.gov.au/informationsecurity/Documents/AustralianGovernmentclassificationsystem.pdf

افشا کول به د دولت فعالیت له خطر سره مخامخ کړي یا یوه کس ته زیان وررسوي.

د ملي امنیت په اړه معلومات د دې معیارونو په کارولو سره په لاندې کچو کې خوندي ساتل کیږي:

**1. اشد محرم:** د دغو معلوماتو افشا کول کېدای شي په یوه استثنایي ژور ډول ملي ګټو ته زیان ورسوي:

- د نیوزیلند NZ یا د ملګرو هېوادنو دننني ټیکاو له ګواښ سره مخامخوي
- په پراخه پیمانه د ژوند د لاسه ورکولو لامل ګرځي
- د نیوزیلند او د هغه ملګرو امنیت ته د استثنایي زیان لامل ګرځي
- د نیوزیلند ځواکونو یا ملګرو ځواکونو عملیاتي اغیزمنتیا ته د استثنایي زیان لامل ګرځي
- د خورا ارزښت لرونکي امنیت یا استخباراتي عملیاتو دوامداره اغېزمنتیا ته د استثنایي زیان لامل ګرځي
- د نورو حکومتونو سره اړیکو ته د استثنایي زیان لامل ګرځي
- د پام وړ ملي زېربناوو ته د شدید اوږدمهاله زیان لامل ګرځي

**2. پټ:** د دغو معلوماتو افشا کول کولای شي ملي ګټو ته په خورا جدي توګه زیان ورسوي:

- نړیوال تاوتریخوالی زیاتوي
- د ملګرو حکومتونو سره اړیکو ته په جدي توګه زیان رسوي
- د NZ ځواکونو یا د ملګرو ځواکونو امنیت ته په جدي توګه زیان رسوي
- د نیوزیلند ځواکونو یا د ملګرو ځواکونو عملیاتي اغېزمنتیا ته په جدي توګه زیان رسوي
- د ارزښت لرونکي امنیت یا استخباراتي عملیاتو اغېزمنتیا ته په جدي توګه زیان رسوي
- د نیوزیلند NZ یا د ملګرو هېوادنو دننني ټیکاو ته په جدي توګه زیان رسوي
- د خورا مهمو ملي زېربناوو د بندېدلو او یا په زښت پراخه پیمانه د هغوی د کار د ګډوډېدلو لامل ګرځي

**3. محرم:** د دې معلوماتو افشا کول کېدای شي په د پام وړ ډول ملي ګټې زیانمنې کړي:

- به مادي ډول ډیپلوماتیکو اړیکو ته زیان رسوي - د رسمي لاریون یا نورو بندیزونو لامل کېږي
- د نیوزیلند ځواکونو یا ملګرو ځواکونو عملیاتي اغیزمنتیا ته زیان رسوي
- د NZ ځواکونو یا د ملګرو ځواکونو امنیت ته زیان رسوي
- د ارزښت لرونکي امنیت یا استخباراتي عملیاتو اغېزمنتیا ته زیان رسوي
- د نیوزیلند NZ یا د مګرو هېوادنو دننني ټیکاو ته زیان رسوي
- په زښت پراخه پیمانه د ملي زېربناوو کار ګډوډوي

**4. محدود کړای شوي:** د دغو معلوماتو افشا کول کولای شي پر ملي ګټو ناوړه اغېز وکړي:

- پر ډیپلوماتیکو اړیکو ناوړه اغېز کوي
- د نیوزیلند ځواکونو یا ملګرو ځواکونو عملیاتي اغېزمنتیا په وړاندې خنډ ګرځي
- د NZ ځواکونو یا د ملګرو ځواکونو د امنیت په وړاندې خنډ ګرځي
- د نیوزیلند NZ یا د ملګرو هېوادنو پر دننني ټیکاو باندې ناوړه اغېز اچوي
- د نیوزیلند NZ یا د ملګرو هېوادنو پر اقتصادي هوساینې ناوړه اغېز اچوي

د حکومت تګلاره او د افرادو شخصي محرمیت په لاندې کچو او د دې معیارونو په کارولو سره خوندي ساتل کېږي:

5. **حساس او محدود ګڼل شوي:** د دولت ګټو ته زیان رسولای شي او یا خو یې هم وګړي له ګواښ سره مخامخ کوي:

- د هر یوه کس خوندیتوب له خطر سره مخامخ کوي
- د نیوزیلند NZ اقتصاد ته جدي زیان اړوي
- د حکومت د خبرو اترو پر وړاندې خنډ ګرځي

6. **په باور کې:** کولای شي د قانون او نظم ته زیان ورسوي، د حکومت سوداګرۍ ته خنډ وګرځي، د وګړو پر شخصي محرمیت اغېز وکړي:

- د قانون ساتنه له ګواښ سره مخامخ کوي
- د هر یوه کس پر فزیکي شخصي محرمیت ناوړه اغېز اچوي
- د اتباعو سوداګریزو معلوماتو ته زیان واړوي
- د باور تعهداتو یا هوډ ته زیان رسوي
- د خلکو د مادي شتمنیو له لاسه ورکولو د مخنیوي تدابیرو ته زیان رسوي
- اساسي میثاقونو ته زیان رسوي
- د عامه چارو په اغېزمنه توګه تر سره کولو په وړاندې خنډ ګرځي
- د مسلکي قانوني امتیاز په وړاندې خنډ ګرځي
- د حکومت د سوداګریزو فعالیتونو په وړاندې خنډ ګرځي
- د ناوړه امتیاز او یا ګټې د تر لاسه کولو په موخه معلومات افشاکوي

لکه څنګه چې یې مخکې یادونه وشوه، د معلوماتو د درجه بندۍ لپاره د ورته نښه کولو معیارونه کېدای شي د OECD په ډېرو هېوادونو کې وموندل شي. ان په ترکیه کې، چېرې چې د درجه بندۍ مقررات په عام ډول شتون نلري، د درجه بندۍ د یو لړ ټاکلو کچو شتون لیدل شوی (Jacobsen 2013). سویډن یوازینی هېواد و چې د Jacobsen (2013) لخوا څېړل شوي سروې ته یې ځواب ووایه، په کومې کې چې قانون د معلوماتو د درجه بندۍ کچې نه مشخصې کوي، څکه چې په سویډن کې درجه بندي په بشپړ ډول اداري دنده ترسره کوي. د معلوماتو د درجه بندۍ اړوند نور اړخونه (د بېلګې په توګه د طبقه بندۍ پروسیجرونه، د نښه کولو غوښتنې، د درجه بندۍ کولو صلاحیت، د درجې ورکولو لپاره د دلایلو ورکولو دنده، د نامناسبې درجه بندۍ لپاره حساب ورکول، د نظارت ارګانونه، او داسې نور)، د اروپايي هېوادونو په ګوټ ګوټ کې د پام وړ توپیر لري (see Jacobsen 2013 and Transparency International UK, 2014 د جیکبسن د 2013 کال د برتانیې نړیوال شفافیت وګورئ).

## د درجه بندۍ د لېرې کولو معیارونه

د وخت محدودیت، د پېښو په ناڅاپي ډول تحریکېدل، یا د بیاکتنې جبري دوره. د دې اصلي موخه د معلوماتو د تلپاتې درجه بندۍ مخه نیول دي. په هر صورت، دا نادره نده چې داسې هېوادونه وموو، چېرې چې د درجه بندۍ د لېرې کولو لپاره هیڅ ډول معیارونه نشته،کوم چې په قانوني او یا عملي اداري کړنو کې چمتو شوي وي. د جیکبیسن Jacobsen (2013) د محاسبې له مخې د درجه بندۍ لپاره مینځ مهاله وخت په اروپايي هېوادونو کې 30 کاله دی، چې په دې ډول د ځانګړي وخت محدودیتونه په هالنډ کې له 10 کلونو څخه رومانیا کې تر 100 کلونو پورې، په هسپانیه او ترکیه کې تلپاتې دي. دا وروستې قضیې، خو بیا هم، په اروپا کې خورا استثنایي دي.

د محرمو معلوماتو د جبري بیاکتنې تر ټولو معمولې موده 5 کاله ده. په سویډن کې، لاله وړاندې ټاکل شوې بیاکتنه نشته، خو د هر ډول معلوماتو بیاکتنه باید هغه وخت تر سره شي، کله چې د معلوماتو د افشاکولو غوښتنه وړاندې کېږي. د درجه بندۍ اتوماتیک لېرې کول (د پېښو په ناڅاپي ډول تحریکېدل) له یوه هېواده تر بل پورې توپیر لري، خو د دوی په ډېریو کې اصلي اړخ د حکومت اختیاري پرېکړه ده چې له وجې یې د معلوماتو د بېلابېلو ټولګیو درجه بندي لېرې کړای کېږي. دا ډول یوه پرېکړه کولای شي معلوماتو ته د لاسرسي د قانون د پروسې په پایله کې د یوه وګړیز یا خو مدني سازمان لخوا ترسره شي.

## د راز ساتلو تر کنټرول لاندې نیولو ازموینه: د زیان د ازموینې او د عامه ګټو د انډول ټاکونکې ازموینه

د Right2INFO.org په وینا، چې یوه غیر دولتي موسسه ده چې ښه قانون او کړنې ته وده ورکوي، د ضرر د ازموینې او عامه ګټو ازموینه د دې اړتیا څخه سرچینه اخلي چې معلوماتو ته د لاسرسي حق محدودیتونه باید متناسب او اړین وي.[7] د OECD-SIGMA (2010) د دغو آزموینو تر شا نظریاتو ته پراخه او بشپړ مفهوم وړاندې کوي، چې معلوماتو ته د لاسرسي پورې اړوند مطلق او نسبي محدودیتونو تر منځ توپیر څخه سرچینه اخلي. هغه محدودیتونه چې د دفاع او ملي امنیت په اړه دي، په عمومي ډول د لومړنیو هغو په منځ کې شامل دي.

### د زیان ازموینه

د زیان د ازموینې سره سم، عامه اداره باید دا وښیي چې د ځینې معلوماتو افشا کول، خوندي ساتل شویو ګټو ته د زیان اړولو ګواښ کوي. له همدې کبله یې افشا کول باید تر سره نشي. د زیان ازموینه دا غوښتنه کوي چې دولت دې قانوني ګټې ته د پام وړ او روښانه زیان رسېدلو ګواښ تصدیق کړي. دا باید وښودله شي چې دا محدودیت په یوه پېژندل شوې مشروع ګټې پورې اړه لري، او چې دا افشا کول به دې ګټې ته د پام وړ زیان رسولو لامل وګرځي. دا ډول زیان باید په پوره توګه مشخص، ټینګ، قریب الوقع او مستقیم وي، او نه اټکلونکی یا لیرې.

### د عامه ګټو د انډول ساتلو ازموینه

د عامه ګټو د انډول ازموینه تناسب ته منسوب ګرځي. هغه یوه انډول کوونکي عمل ته اړتیا لري، چې په وسیله یې د افشا کېدلو زیان د عامه ګټو پر وړاندې ارزول کېږي چې کېدای شي د افشا کېدلو له لارې ترسره شي. هغه شرطونه، په کومو کې چې د روښانه او مفصلو عامه ګټو وزنه کېدای شي د راز ساتلو / محرمیت تر وزنې لوړه وي، د ملي قانون له لارې مشخص کېدلو ته اړتیا لري. د ملي درجه بندۍ د ډېرو ماډلونو سره سم - د امریکایي او افریقایي هغو په ګډون - د خلکو ګټې حتمي ګرځي او د بشري حقونو پرووړاندې د سرغړونو یا د بشر پر ضد جرمونو په اړه معلوماتو په صورت کې د نورو ګټو پر وړاندې لومړیتوب تر لاسه کوي. د توازن ازموینه دا غوښتنه کوي چې دولتي مقام یا د نظارت ارګان، هغه زیان وزن کړي، کوم چې به یې افشا کول د عامه ګټو پر وړاندې یوې معینې محافظې ګټې ته ورپېښ کړي چې د هغو معلوماتو په افشا کېدلو سره یې کار کاوه.

د هغه څه تعریف چې عامه ګټې رامینځته کوي په بېلابېلو هېوادونو کې یو له بل سره توپیر لري او ډېر څله قضیې پر قضیې ارزونې ته اړتیا لري. په ټوله کې، د عامه ګټو په خپلې خوښې یا پلوۍ افشا کول معمولاً د عامه بحثونو موضوعګانې، په سیاسي بحث کې د خلکو برخه اخیستنه، د تخصیص ورکولو لپاره حساب ورکول، د عامه بودیجو مصرفول او د عامه خوندیتوب مسئلې په ځان کې رانغاړي. د عامه خوندیتوب او چاپیریال پورې اړوندې مسئلې، روغتیا ته د پام وړ ګواښونه، او د بشري حقونو په جدي سرغړونو پورې اړوند معلومات په عمومي ډول د معلوماتو افشا کولو لپاره د عامه ګټو لازمي لومړیتوب ته توجیه ورکوي.

ځینو هېوادونو د ملکي کارمندانو اداري طرزالعملونو لپاره لارښودنې خپرې کړې. د مثال په توګه، د آسټرالیا په نوي جنوبي وېلز کې، کله چې پرېکړه کوي چې معلومات دې خپاره شي، عامه کارمندان باید د عامه ګټو د توازن ازموینه پلې کړي. د دې معنی دا ده چې دوی باید د افشاکېدلو په پلوۍ فکترونه د عامه ګټو د فکتورنو په وړاندې د افشاکېدلو پر ضد وزن کړي.[8] د دې لارښودنو سره سم، د عامه ګټو د توازن ازموینه درې پړاوه لري:

1. د افشا کولو په پلوۍ د خلکو لېوالتیا تشخیص کړئ.
2. د افشا کولو په ضد د خلکو لېوالتیا تشخیص کړئ.
3. د افشا کولو په پلوۍ او پر ضد یې د عامه ګټو نسبي وزن تشخیص کړئ او دا معلومه کړئ چې د دې ګټو تر منځ توازن چېرې دی.

7 http://www.right2info.org/exceptions-to-access/harm-and-public-interest-test

8 http://www.ipc.nsw.gov.au/fact-sheet-what-public-interest-test

معلوماتو ته د افشا کېدلو په پلوۍ د آسټرلیا د قانون د روښانه دریځ سره سره، معلوماتو ته د لاسرسي ولایتي قوانین یو شمېر شرطونه رامینځته کوي، چېرې چې انګېرنه د معلوماتو د پټ ساتلو او د راز ساتلو په ګټه ده. ترټولو وتلي يې هغه معلومات دي، چې د راز ساتلو د قانون د تطبیقولو سره مخامخ دي، په ځانګړي ډول 26 قانونه نومول شوي. دا یوه عمومي لېوالتیا تعقیبوي چې د OECD پر ډېریو هېوادونو باندې اغېز اچوي، پداسې حال کې چې د معلوماتو د آزادۍ قوانین(FOIAs) په عمل کې د دولتي دودیزو قوانینو په درشل کې په عمل کې نااړونده پاتې شوي. د دولت رازونه په پرله پسې توګه د معلوماتو قانون ته د لاسرسي د آزادۍ د پوښښ څخه جلا ساتل کېږي. سربېره پر دې، په عمومي توګه په ډېرو هېوادونو کې لرې هڅې رواني دي چې د دولتي امنیت دودیز قانون معلوماتو ته د لاسرسي د خپلواکۍ د نوي قانون سره همغږي کړي.

دا حقیقت چې د معلوماتو د آزادۍ د قوانینو (FOIAs) ډېری د ملي امنیت پورې اړوند راز ساتل په حقیقت کې نالاسوهلي پاتې شوي دي دا معنی لري چې تر دې دمه محاکمو ته قانون جوړونه او سرچینې د امنیت او استخباراتي ادارو په کارونو کې د محرمیت او راز ساتلو کارولو زیاتوالي اړوند د نړیوالې لېوالتیا د کمولو لپاره وسیلې لرې اغیزمنې ثابتې شوې. دا ډول بنسټونه، د هغوی د محرمو معلوماتو په اړه دودیز او په وار وار ناڅرګندې لارې سره، اساساً د FOIAs په مټ غیر اغېزمن پاتې کېږي، سره له دې چې پراخه نړیواله لېوالتیا د لا زیاد عامه شفافیت لپاره او مدني ټولنې يې د "پوهېدلو د حق" غوښتنه کوي.

دا خبره دې حقیقت ته اشاره کوي چې د عمومي قانون پلي کول، چې د راز ساتلو او آزادۍ په توازن کې اغېزمن دي، هم په مفهوم او هم په عمل کې ننګوونکي دي. یو دلیل يې دا دی چې عامه ارګانونه یا اداري چې تر ټولو په ډېر احتمال سره د معلوماتو طبقه بندي کوي، په خپل کار او کړنو کې د خورا بېلابېلې موخې او انګېزې لېوالتیا لري. دا د امنیت پورې اړوند بېلابېلو کلتورونو ته وده ورکوي. د بېلګې په توګه، پوځي ارګانونه په عمده ډول د وسلو د ټکنالوژۍ او عملیاتي پلانونو پر امنیت باندې تمرکز کوي، استخباراتي اداري د سرچینو او عملیاتي میتودونو پر محافظت باندې، ډیپلوماتان د نړیوالو پایلو او د ډیپلوماتیکو معلوماتو د درجه بندۍ او د درجه بندۍ د لیرې کولو په اړه اندېښمن دي، او پولیس لېوال دي چې د خپلو معلوماتو او عملیاتي پلانونو ساتنه وکړي. دا هره اداره یا بنسټ دې ته اړباسي چې خپلو لارښودونو، طرزالعملونو، او پروتوکولونو ته وده ورکړي - کوم چې د کلونو کلونو لپاره، ناسپړلي او پرته له جدي بیاکتنې په فعالیت کې پاتې کېږي. سربېره پر دې، دا د پوهېدو وړ خبره ده چې په هغو ایجنسیو کې چې په پورته نوملړ کې لیکل شوي، خلک د نه توجیه کېدونکو ستونزو څخه د مخنیوي لپاره ځانونه خوندي ساتي، کوم چې ډېر کله د ډېرې درجه بندۍ کولو د علایمو لامل ګرځي (Aftergood, 2009).

د پایلې په توګه، باخبره کتونکي او معالجه کوونکي وړاندیز کوي چې ان که چېرې درجه بندي باید د اړوندې ادارې لخوا ترسره شي، د درجه بندۍ د لیرې کولو واک باید له دې ادارې څخه بهر وي. دا د یوې ادارې د شخصي ګټو د ختمولو او د درجه بندۍ له زیاتوالي څخه د پاکولو تر ټولو غوره لاره ده (Aftergood, 2009 page 412). د دې کار د کولو لپاره ځینې بریالۍ هڅې په متحده ایالاتو کې سرته رسېدلې دي، د بېلګې په توګه، د ایجنسیو د خپلمینځي امنیت د درجه بندۍ د درخواست مدیره هیئت[9] (ISCAP) او د اساسي درجه بندۍ د پالیسۍ (FCPR).[10] په فرانسه کې، CSDN بل مثال وړاندې کوي (پورته وګورئ). د متحده ایالاتو تجربه ، چې د Aftergood (2009) لخوا تشریح شوې، په خپل ذات کې ښيي چې "که چېرې یوه اداره ونشي کولای په بریالیتوب سره د نورو ادارو لوړ پوړي چارواکي یا هیئت ته وضاحت ورکړي او قانع يې کړي چې ولې ملي امنیت اړتیا لري چې یو ځانګړی توکی دې درجه بندي شي، نو بیا داسې یو دلیل شته چې د هغه د دوامداره راز ساتلو پر اړتیا دې شک وکړي".

9 https://www.archives.gov/declassification/iscap
10 https://www.dni.gov/files/documents/Newsroom/Reports%20and%20Pubs/ODNI%20FY2017%20FCGR.pdf :

همدرانګه په لاندې ویبسایټ کې د 1994 کال مخکښه بیاکتنه د انژۍ په څانګه کې وګورئ
https://www.osti.gov/opennet/forms.jsp?formurl=od/fcprsum.html

## پايلامې

1. د امنیت او دفاع په برخو کې د معلوماتو د محرمیت تنظیمولو قانون ته اړتیا ده او دا قانون باید تر وسه وسه دقیق وي. دا ډول يو قانون باید د معلوماتو د درجه بندۍ کولو در درجه بندې څخه د ایستلو لپاره معیارونه برابر کړي، د دې په پام کې نیولو سره چې د تعریف له مخې دا قانون به عمومي وي او په پایله کې یې ټاکل شوي معیارونه به هم عمومي وي. د قانون د تنظیمولو محرمیت، کوم چې په ډېرو هېوادونو کې معلوماتو ته د لاسرسي په اړه تر قانون مقدم وي، باید د وروستیني هغه سره همغاړي کړای شي، تر څو په ملي قانوني نظم کې د تناقض یا ناهمغاړیتوب څخه مخنیوی وشي.

2. د یوه سالم قانوني چوکاټ سره موازي، د ایجنسۍ په کچه یو هوښیار او مهارت لرونکی مدیریت اړین دی چې د ډیموکراتیکو ارزښتونو او د عامه شفافیت اصل تر ډېره ممکنه حده پورې د تقویت لپاره، له سلیم قضاوت یا هوښیارۍ لارې د درجه بندۍ قانوني معیارونه پلي شي. د مختلفو ملاحظاتو د متوازن کولو د اړتیا شعوري پوهاوی باید د تنظیمي کلتور یوه برخه وي. د ادارو اړوند مدیران باید د یوه مشروع محرمیت او مشروع شفافیت تر مینځ د متوازن چلند د ترلاسه کولو لپاره هغه ته د خپل نقش په سترګه وګوري.

3. د غیر عادلانه لوړې کچې درجه بندۍ کمول او د خلکو د پوهې حق او ملي امنیت اړین توازن ساتل - او د راز ساتلو لپاره نور مشروع دلایل – د ننګونو مجاهدت دی. د راز ساتلو کلتور د دفاع په ساحه کې ړنتیا ته وراړول کېدای شي چې د اروپایي اتحادیې EU او OECD په ډېرو هېوادونو کې د وړاندوینې وړ راتلونکې ته د لاسرسي څخه بهر وي.[11]

4. وفاداري، ټاکل شویو کړنلارو ته درناوی، او د امنیت او دفاع په ډګر کې د کارمندانو او نورو څخه د راز ساتلو ته کېږي. دا ځانګړتیاوې په رښتیا هم چې اړینې وي، خو بیا هم د نوښت او نویو نظرونو یوه معینه درجه کولای شي او باید هم چې وهڅوله شي، ان که د بدلونونو خونه کېدای شي معتدله ثابته کړای شي. خو بیا هم، دې ته اړتیا شته چې له یوې خوا د مشروع راز ساتلو، او له بلې خوا معلوماتو ته د مشروع لاسرسي تر مینځ مطلوب توازن د ترلاسه کولو د څرنګوالي په اړه انتقادي نظر واخلو.

5. د راز ساتلو د قوانینو یا د محرمیت د پالیسیو پلي کولو مسئول پرسونل باید په ځانګړي ډول وروزل شي چې په حکومت کې د آزادۍ او ړنتیا لپاره ډیموکراتیکې اړتیا ته د پام وړ وزن ورکولو لپاره وړ وي، پداسې حال کې چې باید په واضحه توګه د قانون په رڼا کې یوه شي چې کوم شیان د خلکو له نظره پټ پاتې کېدلو ته اړتیا لري. د تبعیض څخه ډک راز ساتلو بدیل د تبعض څخه خالي آزادي نه ده. د هغو کارمندانو کیفیت او وړتیا چې د امنیت او دفاع په ډګر کې کار کوي خورا مهم دي، ځکه چې دا د دیموکراتیکې ټولنې او د امنیتي ادارو او مدني ټولنې ترمینځ پر اړیکو مستقیمې اغېزې لري.

6. یوه خپلواکه اداره، د بیلګې په توګه د درجه بندۍ د لیرې کولو د کمیسیون یوه خپلمینځي ایجنسي- کومه چې د درجه بندۍ د خورا مهمې کټګورۍ لرلو ادارو څخه بهر موقعیت لري، لکه د اردو، استخباراتو او پولیسو - باید د انفرادي ادارو لخوا د پټ ساتل شویو معلوماتو د بیاکتنې او په دوره یي ډول د درجه بندۍ وړتیا او صلاحیت ولري. په ټوله کې، محکمې د دولت د پټو اجرایوي امتیازاتو لپاره ډېر د پام وړ پېژندل شوې، او په دې برخه کې د بدلون ټه کولو لپاره محدود دلیل شتون لري.

---

11 حتی که داسې ښکاره شي چې رومانیا وکولای شول چې دا تر سره کړي ( ماتیې، 2007 کال) (Matei, 2007).

7. داسې ښکاري چې يوه ښه کړنه دې رامنځته کېدونکې وي چې د دوديزې درجه بندۍ کړنې ځانګړتياوو سره پړتله شوي اختياري کړنې ښيي: د معلوماتو درجه بندي او د درجه بندۍ د ليرې کولو پرېکړه بايد د يوه فرد لخوا نه، بلکې د يوې خپلواکې کمېټې يا کميسيون لخوا وشي، چې د اړتيا په صورت کې د يوه بې طرف قضاوت وړتيا ولري چې آيا ورکړل شوي معلومات دې درجه بندي کړای شي او يا خو دې هم د درجه بندۍ څخه وايستل شي - په بشپړ ډول يا تر يوې اندزې. دا ډول يو تخصصي واحد بايد د په قانوني ډول تاسيس شويو معيارونو لخوا هدايت کړای شي ترڅو د زيان معلومول او د توازن ازمويني ترسره کړي. د داسې يوې خپلواک کمېټې يا کميسيون غړيتوب بايد محدود وي، د بېلګې په توګه له ۵ څخه تر ۷ غړو پورې، او دا کولای شي د اجرائيه قوې، پارلمان، وکيلانو، صلاح ليد او قضايې قوې په چوکاټ کې امنيتی تخصص ولري.

## مراجع


Aftergood, Steven (2009):"*Reducing Government Secrecy: Finding What Works*," in Yale Law & Policy Review

Vol. 27, No. 2 (Spring, 2009), pp. 399-416. Available at: https://www.jstor.org/stable/40239716?seq=1#page_scan_tab_contents

Fenster, Mark (2010): *Seeing the State: Transparency as Metaphor*, in Administrative Law Review, pages 617-672, available at http://scholarship.law.ufl.edu/cgi/viewcontent.cgi?article=1571&context=facultypub

Fuchs, Meredith (2006): *Judging Secrets: The Role Courts Should Play in Preventing Unnecessary Secrecy*, in Administrative Law Review, Volume 58, Number 1, Winter 2006, pages 131-176.

Jacobsen, Amanda L. (2013): *National Security and the Right to Information in Europe*. Available at: http://www.right2info.org/resources/publications/national-security-page/national-security-expert-papers/jacobsen_nat-sec-and-rti-in-europe

Matei, Florina Cristiana (2007): *Reconciling Intelligence Effectiveness and Transparency: The Case of Romania*, in Strategic Insights, Volume VI, Issue 3 (May 2007). Available at: https://calhoun.nps.edu/bitstream/handle/10945/11297/mateiMay07.pdf?sequence=1

OECD (2010), "*The Right to Open Public Administrations in Europe: Emerging Legal Standards*", SIGMA Papers, No. 46, OECD Publishing, Paris. At: http://dx.doi.org/10.1787/5km4g0zfqt27-en

Riese, Dorothée (2014): *Secrecy and Transparency*, paper resented at the ECPR Conference in Glasgow , September 3-6, 2014. Available at: https://ecpr.eu/Filestore/PaperProposal/2cedead9-5191-42de-ae36-7d320a28a304.pdf

Sartre, Patrice & Ferlet, Philippe (2010): *Le secret de défense en France* in Revue Études 2010/2, Tome 412, février, pages 165-175. At : https://www.cairn.info/revue-etudes-2010-2-page-165.htm

Sauvé, Jean-Marc (2011): *Culture du secret contre transparence sans limite : quel équilibre pour garantir l'intérêt général ? Transparence, valeurs de l'action publique et intérêt général*, discours à l'Assemblée Nationale le mardi 5 juillet 2011 au colloque organisé par Transparence Internationale France. Disponible à : http://www.conseil-etat.fr/content/download/2597/7819/version/1/file/discours-transparence-international.pdf

Setty, Sudha (2012): *The Rise of National Security Secrets*, in Connecticut Law Review, volume 44, number 5, July 2012, pages 1563-1582.

Transparency International UK (2014): Classified Information: A Review of 15 Countries. Available at: http://ti-defence.org/wp-content/uploads/2016/03/140911-Classified-Information.pdf

# د ښه حکومتولۍ د لړۍ لاربښودونه


شمیره 1

ښې حکومتولۍ ته لاربښودنې

مسلکي توب او صداقت او
رښتینولي په عامه خدمتونو
کې

Centre for Integrity
in the Defence Sector


شمیره 2

ښې حکومتولۍ ته لاربښودنې

په عامه سکتور کې
د ګټو د تضاد سره
چال چلند کول

Centre for Integrity
in the Defence Sector


شمیره 3

ښې حکومتولۍ ته لاربښودنې

د فساد ضد تګلارې
او ایجنسۍ

Centre for Integrity
in the Defence Sector


شمیره 4
ښې حکومتولۍ
ته لارښودنې
معلوماتو ته لاسرسی او عامه
شفافیت ته محدودیتونه
Centre for Integrity
in the Defence Sector


شمیره 5
ښې حکومتولۍ
ته لارښودنې
په دفاعي سکتور کې د املاکو د فساد
او تقلب/درغلۍ د احتمالي ګواښونو
مدیریت کول
Norwegian Ministry
of Defence
Centre for Integrity
in the Defence Sector

**ښه حکومتولۍ ته لارښودني** د کوچنيو کتابګيو يوه ټولګه ده چې هر يو يې په خاصه توګه په دفاعي سکتور کې د ښه حکومتولۍ د موضوګانو د اهميت په اړه بحث کوي. دا لارښودنې کېدای شي چې د هغو کسانو لخوا ولوستلې شي چې يا په يوې موضوع کې لېوالتيا لري او يا خو هم په يو زيات شمېر موضوع ګانو کې چې په دفاعي سکتور کې د ښې حکومتولۍ په اړه دي، يوه لېوالتيا ولري – او يا په عامه سکتور کې په عمومي توګه – او دوی همدارنګه کېدای شي د تعليمي موخو لپاره وکارول شي.

د دې سند د يوې يا ټولو برخو تکثير جواز لري په دې شرط چې وياړ يې د ناروې، اوسلو، په دفاعي سکتور کې د صداقت او رښتينولۍ مرکز ته منسوب کړای شي، او په دې شرط چې هر ډول تکثير، د يوې برخې او يا د ټولو برخو، و نه پلورل شي او نه هم له يو داسې سند سره يوځای شي چې هغه د خرڅلاو لپاره وي.

ژباړونکی: د صداقت او رښتينولۍ مرکز په دفاعي سکتور کې
ډيزاين: www.melkeveien.no
چاپ: د ناروې حکومت امنيتي او خدماتي سازمان
د 2018 کال د مى مياشت

پښتو ژبې ته د اصلي انګرېزي متن ژباړه د ناټو په مټ ترسره شوې

NATO
OTAN

Centre for Integrity in the Defence Sector

www.cids.no